مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۵/۲۰

# د خوشال پوهنې پر لار باندې یو بل بریالی ګام

## «د خوشحال خان خټک په دستارنامه کي فارسي کلام د چا دئ؟»

## د خوشال آثار

## خوشال پوهنه

## ۴۲




«د خوشحال خان خټک په دستارنامه کي فارسي کلام د چا دئ؟» د استاد معصوم هوتک د هغه اثر نوم دی چې څو ورځې د مخه (۱۷/۰۵/۲۰۲۰) په افغان جرمن آنلاین پورټال کې پر لیکه شو.

دا کتاب چې د خوشال پوهنې د یوې سخرې او جړ غوټې د پرانستلو په موخه لیکل شوی دی، دا لاندې برخې لري:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۱ ــ په پیل کې د مقدمې په ډول د لیکوال خبرې راوړل شوې دي چې د موضوع پر ارزښت او د دې څېړنې پر پس منظر باندې رڼا اچول شوې ده،

۲ ــ بیا د کتاب اصل متن دی چې د خوشال په دستار نامه کې د راغلي فارسي کلام شاعران او ر شعرونو پتې يې ښوول شوې دي،

۳ ــ د کتاب په دریمه برخه کې د خوشال په دستار نامه کې راغلي هغه فارسي بیتونه ابښودل شوي دي چې تر اوسه يې شاعران او پتې نه دي څرګندې شوې او د استاد هوتک په قول: «پاته درويشت ځایونه چې د ټول کتاب ۱۵٪ فارسي کلام په ځان کې راکښېباسي، د راتلونکو څېړونکو د څېړنو انتظار باسي.»

۴ ــ د کتاب په پای کې د مآخذونو فهرست راوړل شوی دی چې ټول شمېر يې اوه پنځوس (۵۷) ته رسېږي. هوتک صاحب د خپل دې اثر د ماخذونو په باب داسي وايي:

«د ماخذو په پېژندنه کې ما له یوځه تفصیله کار اخیستی دئ او ځای ځای مې د پوهاند میرحسین شاه او ښاغلي زاهد مشواني څېړنې نوري هم پسې شنلې دي او بل مې هیڅ بیت، مصراع، فرد، قطعه، رباعي او مثنوي بې تبصرې پرې ایښی نه دئ. که مې هیڅ هم نه پر درلودل، نو دونده (دومره) قدر خومې ورته کښلي دي چې" نور تحقیق غواړي". د ماخذو په ښوولو کې مې یوازې دهغه د نوم، مخ ، چاپکال او چاپځای په راوړلو بسنه نه کړې، بلکې د هماغه ټاکلي نظم، او حکایت د سر بیت او جمله مې هم راوړې ده. دا کار د نورو څېړونکو کار ور اسانه کوي او له سرګرداني ئې راګرځوي.»

**تر اصل موضوع مخکې په لنډ ډول د خوشال دستار نامه او د هغې محتویات:**

د خوشال د منظومو آثارو په باب ډېرو څېړونکو خبرې کړې دي، خو د منثورو آثارو په باب يې لږې خبرې شوي دي. که د خوشال منثور آثار په دقت ولوستل شي، ليدل کېږي چې د خوشال منثور ليکلي آثار د موضوع له پلوه نسبت منظومو ته ډېر ارزښتمن ښکاري. استاد زلمی هیوادمل داسي وايي:

«هسې چې د خان منظوم آثار له خپلو ځانګړيو فکري او هنري ارزښتونو برخودار دي، دغسې يې په نثر کې موږ ته داسې څه را پرېښي دي، چې موضوعي ارزښتمنې يې تر منظومو هغو څو چنده زياته ده.»

(هیواد مل سر محقق زلمی، ننګیالی د زماني، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ــ جرمني، ۱۳۸۰ــ ۲۰۰۱م، ۱۹۵ ام مخ)

د خوشال دستار نامه په خپل وخت کې هم د شکل له مخې او هم د محتوی له پلوه یو شهکار اثر ګڼلای شو. د دستار نامې محتوایات په لنډه توګه لوستونکو ته داسې ور پېژندلای شو:

**ــ یوه مقدمه،**

**ــ شل هنرونه،**

**ــ شل خصلتونه،**

**ــ یوه خاتمه.**

خوشال خان د دستار نامې د مقدمې په لومړۍ برخه کې په واضح ډول ويلي دي چې دستار پر سر کول د مود و فیشن له پاره نه دي، بلکې دستار دی هغه څوک پر سر کړي چې «قابلیت» او «لیاقت» يې ولري. دا د ده خپل جملات دي:

«خبر شه چې دستار په سر کول د ښېوې او د نمای له پاره نه دي، دستار د مرد شرم او عزت دی، تمامي شرم د مرد په دستار کې دی... هر کله چې بادشاه یا امیر په ابتدا په تخت یا په مسند د لويی کښيني، د بادشاه پر سر تاج، د امیر پر سر دستار کیښود شي، هر چې قابل او لایق دی، دا کار په هغه پسنده په نا قابل پسنده نه شي. هر چې په اتفاق دستار د هغه پر سر کښېږدي، هغه اطاعت اختيار کا، د دستار شرم په دواړه لوريه لازم شي. اول په هغو چې دستار د هغه شخص په سر کښېږدي، بیا په هغو چې دستار د لويی په سر کا، د بل په ځای کښيني. که قابل وي، ثنا تعریف يې شي، که نا قابل وي پورې ریشخند کیږي، پس د دستار کار سهل او آسان نه دی.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(خټک خوشحال، دستارنامه، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵ کال، ۲ ام مخ)

خوشال خان دستار نامه په زندان کې پر ۱۰۷۶ هـ ق ـ ۱۶۶۵ م کال په داسي حال کې ولیکله چې هیڅ ډول کتاب او مأخذ ته يې لاسرسی نه درلود. که څوک د ستارنامې یو څو مخه ولولي، د خوشال د حافظې قوت او د مطالعې وسعت سمدلاسه ورته جوتيږي. لکه څنګه چې استاد هوتک هم د «د خوشحال خان خټک په دستارنامه کې فارسي کلام د چا دئ؟» د مقدمي په پیل کې ویلي دي چې:

«د خوشحال خان خټک (۱۰۲۲ ـ ۱۱۰۰ هـ ق) په آثارو کې (دستارنامه) هغه درونډ اثر دئ چې خان د رنتنبورپه زندان کې په ۱۰۷۶ هـ ق کال کښلی دئ. که څوک غواړي د خوشحال خان د علمي شخصیت اندازه ځان ته معلومه کړي، نو دستارنامه ورسره بیخي ډېره مرسته کولای سي. یو څوک چې د بند او زندان په تیاره ماحول کې، له خپل کور، کتاب او کتابتون څخه په فرسخونو لیري پروت وي او له حافظې څخه دي د خپل عصر لسونو نایابو او نادرو تاریخي او ادبي کتابو ته حوالي ورکوي، داسي چا ته له نابغه پرته بل نوم ورکول بې انصافي ده.»

**اوس هم د خوشال په دستار نامه کې فارئ کلام:**

د خوشال د دستارنامې د فارسي کلام د پتو یا ماخذونو مالومول استاد پوهاند میر حسین شاه راپیل کړی و، یو څه زاهد مشواني وړپسي وڅېړل، خو د غوټې ډېره برخه استاد هوتک سپړلې ده. استاد هوتک د همدې اثر (د خوشحال خان خټک په دستارنامه کې فارسي کلام د چا دئ؟) د پیل په خبرو کې دې څېړنو اشاره کړې ده چې په یوه برخه کې يې داسي راغلي دي:

«په دستارنامه کې د فارسي کلام زیات و کم ۱۴۷ ځایه ما شمېرلي دي. په دې کې پوهاند میر حسین شاه درو څلوېښت مورده څېړلي دي چې په دې حساب ئې د دستارنامې د فارسي کلام څه کم دېرش فیصده ماخذونه موږ ته رابنوولي دي. ښاغلي زاهد مشواني دو شپېته شعرونه څېړلي دي چې دې کې د پوهاند میر حسین شاه ۴۳ ځایه هم شامل دي. په دې ډول ئې د دستارنامې د فارسي کلام د ماخذو په ښوولو کې نولس ځایه نور ورزیات کړل او فیصدي ئې نژدې ٪۴۳ ته لوړه کړه. خو ما د فارسي کلام د یوسل څلېرویشتو ځایونو ماخذونه ښوولي دي چې په دې کې مې د پوهاند میر حسین شاه او ښاغلي زاهد مشواني پر دو شپېته ماخذو باندي نور دوشپېته ماخذه هم ورزیات کړل او اوس موږ ته د دستارنامې د فارسي کلام نژدې ٪۸۵ ماخذونه معلوم سول. پاته درویشت ځایونه چې د ټول کتاب ٪۱۵ فارسي کلام په ځان کې راکښېباسي، د راتلونکو څېړونکو د څېړنو انتظار باسي.»

د استاد هوتک دا اثر (د خوشحال خان خټک په دستارنامه کې فارسي کلام د چا دئ؟) لومړی پلا پر ۲۰۱۶ کال د علامه رشاد اکاډیمي په کندهار کې خپور کړ، بیا د معصوم هوتک په خپل وېبسایټ (hotakonline.com) کې هم پر لیکه شو، خو په دې انلاین شوې بڼه کې یو څه طباعتي تېروتني وې چې د مولف وروسته ورته پام شو، او اوس دا ئ تر اړينو سمونو وروسته، د دوه زره شلم (۲۰۲۰ ام) کال د مې میاشتې پر اولسمه (۱۷مه) نېټه د افغان جرمن پورټال له لوري په انلاین بڼه هم خپور شو.

په میډیا کې د کتابونو او غوره لیکنو د خپرېدو په پار د لیکنو او کتابونو د لیکوال د درناوي په پار لیکوال ته مبارکي او له هغه نه مننه اوس ـ اوس په یوه غوره دود بدل شوی دی. د هوتک صاحب د همدې تر بحث لاندې کتاب له پاره، ما (آصف بهاند) د افغان جرمن د نظرياتو په کړکۍ کې داسي ورته ولیکل:

«پرون په افغان جرمن آنلاین پورټال کې د څېړونکي، شاعر، ژباړونکي او لیکوال استاد محمد معصوم هوتک یو بل اثر پرلیکه شو. دا څېړنیز اثر «د خوشحال خان خټک په دستارنامه کې فارسي کلام د چا دئ؟» نومېږي. له هوتک صاحب نه مننه چې خپل دا ارزښتمن اثر يې د افغان جرمن پورټال له لاري له ټولو لوستونکو سره شریک کړ.

د شپېتمې لسیزې د پیل په کلونو کې استاد زلمی هیوادمل کابل پوهنتون ته د دې له پاره ډېر راته چې کوم سیمينار جوړېدونکی و او د لوړو زدکړو په چاپخونه کې يې یاد سیمينار ته ځینې کتابونه چاپول. یوه ورځ يې له ما نه هیله وکړه چې زه خپل یو همکار استاد پوهاند غلام سرور همايون ته، چې د ادبیاتو پوهنځي د دري څانګې د متنپوهنې استاد و، ووایم چې د خوشحال په دستارنامه کې د راوړل شوو فارسي بیتونو په باب د يوې مقالې په چوکاټ کې څېړنه وکړي. دا کار ما وکړ، خو پوهاند صاحب همايون و نه منله او په ډېر درناوي يې ما ته وویل چې دا کار ډېر درونډ کار دی، ډېرې حوصلې او ډېر وخت ته اړتیا لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دغه درووند کار استاد معصوم هوتک تر سره کړ، دا درووند پېټی يې جګ کړ او دا غوټه يې په علمي ډول راوسپړله.

زه د خوشال پوهني د لارې د يو لاروي او زدکونکي په توګه وېلای شم چي دا اثر د خوشال پوهني په شته غوټو کي ډېره جړه غوټه وه چي استاد معصوم هوتک په خپلو عالمانه هڅو او پراخي حوصلي سره دا غوټه پرانسته او د خوشال پوهني پر لار يې يو ډېر بريالی ګام پورته کړ.

زه استاد هوتک ته د دې بريا مبارکي وايم او هيله لرم چي خدای ښه روغتيا او اوږد عمر ور په برخه کړي، څو د ورته ناسپړلو غوټو په خلاصولو کي نور بريالي ګامونه هم اوچت کړي.

زه به ډېر ژر په خير سره د استاد هوتک د دې غنيمت اثر په باب د خپلو خبرو دا لړی وغځوم او د يوې مقالي په ډول به يې په افغان جرمن پورتال کي خپره کړم.»

د دې غنيمت اثر په باب ما د دوه زره اولسم کال (۲۰۱۷) د اګست پر اولسمه (۱۷ مه) نېټه هم يوه مقاله خپره کړې وه چي د خوشال پوهني د مقالو په دېرشمه برخه کي مي خپره کړې ده. د هغې مقالي په پيل کي ما داسي ليکلي وو:

«د خوشحال ژوند ليک، ژوند پېښي، آثار او اشعار د دې ګواهي ورکوي چي خوشحال د مطالعې ډېر قوي بګروند درلود او د خپل وخت پر څلورو ژبو داسي پوهيده چي له خبرو سربېره، لوستل او ليکل يې هم پرې کولای شول.

د خوشحال پوهني د مقالو په اوه ويشتمه (۲۷) برخه کي ما په لنډ ډول ليکلي و چي خوشحال په کومو ژبو پوهيده او بيا مي د فراقنامي له مقدمي نه د استاد پوهاند ميرحسن شاه هغه نظر را اخيستی و چي هغه د خوشحال د فارسي کلام او په تيره په دستار نامه کي د راغلو فارسي بيتونو په باب اشاره کړې وه. دلته يې هم د موضوع په ارتباط اړينه ده چي يو ځل بيا را نقل کړم:
«د خوشال آثارو ته چي پام وشي هر لوستونکی پوهېږي چي خوشال په څلور ژبو پوهيده:

پښتو (مورنی ژبه يې وه)،

دري (اشعار يې په کي ويلي دي)،

عربي (دوه کتابونه پښتو ته ژباړلي دي)،

او هندي.

ده په خپلو آثارو په تيره دستارنامه کي څلورو واړه يادي ژبي کارولي دي.

استاد پوهاند ميرحسين شاه د خوشال د پوهني په باب د خوشال د فراقنامي په يوه چاپي مقدمه کي داسي ليکلي دي:

«... باين ترتيب خوشحال خان را نه تنها بايد شاعر بزرګ شمرد و به زبان پښتو منحصر دانست. راست است که غالب آثارش را په پښتو نوشته و کليات اشعارش به اين زبان ميباشد، اما حتی در ديوان او ميتوان اشعار نغز دري، که از خود اوست، يافت. و در آثار ديګر وي، به خصوص دستارنامه نقل قول های از شعرای بزرګ زبان دري و کلام بزرګان عرب يافت. ترديدي نيست که خوشحال خان از ادبيات دري بهره کافي داشت و به زبان و ادبيات عرب آشنا بود. وسعت معلومات وي در علوم اسلامي از آثارش روشن است...»

(خټک خوشحال خان، فراقنامه، د راحت زاخيلي د زوکړې د سلمي کليزې په وياړ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۶۳ کال، د پوهاند ميرحسين شاه مقدمه، هـ ـ و مخونه)

د خوشحال پر ټول فارسي کلام باندي څه ليکل يوه جلا موضوع ده چي بل وخت ته يې پرېږدم، خو د اوس له پاره په دې مقاله کي يوازې د خوشال په «دستارنامه» کي پر راوړل شوو فارسي بيتونو لنډې خبرې کوم، لنډې ځکه چي دا کار په ډېر عالمانه او مفصل ډول پياوړي څېړونکي استاد معصوم هوتک تر سره کړی دی او د کتاب په بڼه يې د «د خوشحال خان خټک په دستار نامه کي فارسي کلام د چا دی؟» تر سر ليک لاندې په ۱۳۹۵ ل کال چاپ کړی دی.

استاد هوتک د خپل ياد کتاب له پاره يوه لنډه مقدمه هم ليکلې ده او د خوشحال، د هغه د دستار نامي او په دستار نامي کي د راوړل شوي فارسي کلام په باب غږېدلی دی، د دې موضوع پر تر سره شوو کارونو باندي يې رڼا اچولې ده چي زما له پاره ډېر نوي او تازه مالومات په کي موجود دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

او په پای کې د دې خبرې یادول اړین ګڼم چې د دریواړو ښاغلو څېړونکو له کار او زیار سره ـ سره د خوشال د دستار نامې د فارسي اشعارو د پېتو او شاعرانو د مالومولو کار پایته نه دی رسېدلی او د استاد هوتک د څېړنې له مخې یې پنځلس سلنه کار پاتې دی. استاد هوتک د خپلې څېړنې په پای کې د «د څېړنې وړ اشعار» تر سرلیک لاندې دې موضوع ته داسې اشاره کړې ده:

«په دې برخه کې هغه اشعار راغلي دي چې مأې د ماخذ موندلو په برخه کې څه تر لاسه نه کړل او څېړنه ئې راتلونکومحققینو ته پرېږدم.»

زما له نظره د خوشال په دستارنامه کې د فارسي کلام هغه پنځلس سلنه اشعار چې شاعران یې تر اوسه نه دي مالوم شوي، دا موضوع د یوه مونوګراف له پاره جالبه او نوې موضوع ده او کېدای شي چې په افغانستان کې د کوم پوهنځي د زدکړیال له پاره د لیسانس دورې د پایلیک په ډول انتخاب او وڅېړل شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ